# Refugee Council information

Pushto

# شکایت به څنګه کوئ

October 2006

د کډوالو کونسل (Refugee Council) خپل ټولو استعمالوونکو ته د لوړ معیار خدمتونو د وړاندې کولو باور ورکوي.
خو بیا هم، مونږ پۀ دې پوهېږو چې ځینې وختونو کښې کېدی شي چې مونږ تل بریالي نۀ شو. که چېرې تاسو د هغۀ خدمت څخه مطمئن نۀ وئ کوم چې تاسو د کډوالو کونسل د کوم یو دفتر نه تر لاسه کړی وۀ، نو تاسو شکایت ورکولی شئ.

## تاسو څۀ کولی شئ

دا ممکن کېدلی شي چې تاسو خپل شکایت د متعلقه منېجر (مشر) سره د غېر رسمي خبرو اترو د لارې هوار کړئ او د یو ګټور حل پۀ اړه مو موافقه سره راشي. که چېرې د دې لارې نه خبره هواره نۀ شي، یا که تاسو دا ګام پورته کولو سره ځان هوسا نۀ محسوس کوئ، نو تاسو پۀ رسمي توګه سره شکایت ورکولی شئ.

## شکایت به څنګه کوئ

که تاسو غواړئ چې په رسمي توګه سره شکایت ورکړئ، نو لطفاً د شکایت فورمه بشپړه ډکه کړئ او بیا ئې د شکایتونو چارواکي (Complaints Officer) ته پۀ دې لاندېنۍ پته باندې ور و لېږې. دا فورمه زمونږ پۀ ټولو دفترونو کښې شته او تاسو ئې زمونږ د ویبځې نه هم پۀ دې پتې باندې ښکته کولی شئ http://languages.refugeecouncil.org.uk/pushto

که تاسو د دې جوګه نۀ یئ چې خپل شکایت پۀ لیکلې بڼه کښې وړاندې کړئ نو بیا تاسو د شکایتونو چارواکي سره د ټېلیفون د لارې یا نېغ پۀ نېغه پۀ خپله اړیکې نیولی شئ. لطفاً دا خبره یاده ساتئ چې پۀ رسمي توګه شکایت ورکولو سره به پۀ دې باندې هېڅ ډول اغېز نۀ راځي چې پۀ راتلونکي کښې مونږ ستاسو سره څۀ ډول معامله کوو.

## د فورمې بشپړول (ډکول)

- لطفاً چې څومره ډېره تفصیل ورکولی شئ هغه ورکړئ.
- هغه وخت او نېټه هم پکښې شامل کړئ کله چې دا ستونزه را منځ ته شوې وه.

لطفاً فورمه پۀ دې پته باندې ولېږئ :

**Complaints Officer, Refugee Council, 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB**
**Tel: 020 7346 6710**



Registered charity no. 1014576 Registered company no. 2727514 Registered address: 240-250 Ferndale Road London SW9 8BB

که تاسو د کډوالو کونسل کوم یو دفتر ته ورځئ نو تاسو کولی شئ چې دا فورمه پهٔ ځانګړې توګه سره لیبل شوي کوم یو صندوق کښې واچوئ. تاسو دا فورمه د عملې کوم غړي ته یا یو خپل خوښي کس ته هم سپارلی شئ. بله یوه لار دا چې، تاسو دا پهٔ دې شمېرې باندې فاکس کولی هم شئ 020 7346 6760.

## د دې نه وروسته بیا څهٔ کېږي؟

کله چې مونږ ستاسو شکایت تر لاسه کړو، مونږ به تاسو ته لیک در ولېږو چې تاسو خبر کړو چې شکایت مونږ تر لاسه کړ. مونږ به بیا ستاسو د شکایت پهٔ اړه پلټنه کوو او تاسو ته به د نتیجې پهٔ اړه، ستاسو شکایت تر لاسه کولو نه 10 د کار ورځو کښې د ننه ولیکو. که تاسو زمونږ له ځواب څخه مطمئن نهٔ وئ نو مونږ به تاسو ته معلومات درکړو چې تاسو نور کوم ګامونه پورته کولی شئ. پهٔ ټولو مرحلو کښې به مونږ ستاسو شکایت پهٔ بشپړه توګه پټ ساتو.



Registered charity no. 1014576 Registered company no. 2727514 Registered address: 240-250 Ferndale Road London SW9 8BB

# Refugee Council complaints procedure

REFUGEE COUNCIL

Pushto

# د شکايت فورمه

ستاسو نوم

ستاسو پته او پوسټ کوډ چېرته چې مونږ تاسو سره اړيکي نيولی شو

ستاسو د ټيليفون شمېره

لطفاً لاندې کښې هغه وجه وليکئ چې د تاسو خواشيني څرګندول غواړئ او څومره ډېر تفصيل چې ورکولی شئ هغه ورکړئ، د هغۀ وخت او نېټې پۀ شمول کله چې دا ستونزه را منځ ته شوئې وه. کېدی شي چې دا ستاسو لۀ پاره ګټور وګرزي چې ړومبی زمونږ پاڼکی ٔشکايت به څنګه ورکوئ ٔ ولولئ.

که چېرې اړتیا ورته ولرئ نو لطفاً زياتي پاڼې ورسره ګډې کړئ.

ستاسو لاسليک

نېټه

که تاسو د کډوالو کونسل (Refugee Council) په دفتر کښې يئ نو تاسو کولی شئ چې دا فورمه هلته د عملې يوه غړي ته يا يو خپل خوښي کس ته وسپارئ. يا تاسو کولی شئ چې دا په ځانګړې توګه سره لېبل شوي يو صندوق کښې واچوئ. تاسو دا په دې شمېرې باندې فاکس کولی هم شئ 020 7346 6760 يا ئې د پوستې د لارې دې پتې ته لېږلی شئ:

**Complaints Officer**
**Refugee Council**
**240-250 Ferndale Road**
**London SW9 8BB**

که چيري تاسو غواړئ چې د کډوالو کونسل د شکايتونو په اړه تګلاره او کړنلارې ترلاسه کړئ، نو لطفاً په دې صندوق باندې نخښه ولګوئ: ☐



Registered charity no. 1014576 Registered company no. 2727514 Registered address: 240-250 Ferndale Road London SW9 8BB